د افغانستان اسلامي امارت

**د ارشـــــاد، حـــج او اوقافـــــو وزارت**

**د مساجدو او حُسَینیو د ارشاد او انسجام لوی ریاست**

**دجمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**لیکلی تقریر اوبیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو**

**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي**

---

**۲٦/ رجب المرجب/۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ۲٦/ جدي/۱۴۰۴هـ، ش**

# د { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً} مبارک آیت تشریح او په ټولنه کې د اسلام پوره عملي کول.

## بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الحمد لله رب العالمين، الرحمن الرحيم، مالك يوم الدين، ولي الصالحين، ورب الخلق أجمعين، والصلاة والسلام على إمام المرسلين، وقدوة الناس أجمعين، وحجة الله على الناس أجمعين، وعلى آله وأصحابه ومن سلك هداهم إلى يوم الدين، أما بعد:قال الله سبحانه وتعالى:{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً وَلا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ} البقرة:(۲۰۸)

**درنو حاضرینو او محترمو اوریدونکو!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته**

درنو حاضرینو! د سعادت څخه ډک او نیکبخته ژوند هغه دی، چې د الله تعالی په حکمونو او اطاعت کې تیر شي او د تاوان څخه ډک ژوند هغه دی چې دالله تعالی دحکمونو څخه په سرغړونه او سرکشۍ کې تیر شي.
الله تعالی فرمایلي دي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً وَلا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ )البقرة:(۲۰۸)

ترجمه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی، ننوځئ! په اسلام کې ټول. او مه کوئ پیروي دقدمونو د شیطان! بیشکه دا شیطان تاسې لره دښمن دی ښکاره.

**د مبارک آیت تشریح او توضیح:** یعنې په ظاهر او باطن، او په عقیده او عمل کې یواځې د اسلام د احکامو متابعت وکړئ! .

امام طبري رحمه الله ددې مبارک آیت په تفسیر کې لیکلي دي: ای مؤمنانو د اسلام په ټولو شرائعو عمل وکړئ او په الله تعالی ایمان راوړئ قولاً او عملاً ،په ظاهر کې او په باطن کې او د شیطان د قدمونو پیروي پریږدئ. تفسیر الطبري (٤ /۲٥۸)

ددې آیت په سبب نزول کې مفسرینو لیکلي دي ځینو هغو اهل کتابو چې اسلام قبول کړ ، لکه عبدالله بن سلام (رضي الله عنه) نبي علیه السلام ته یې عرض وکړ چې که چیرې ستا اجازه وي ، نو مونږ به د شنبې د ورځې تعظیم کول جاري وساتو او همداراز هغوی به داوښانو غوښې خوړل او شیدې څښل بد ګڼل، نو الله تعالی دا آیت نازل کړ، چې ای مؤمنانو اوس مو چې اسلام قبول کړی دی، نو د جاهلیت عقاید او رسمونه پرېږدئ او د ژوند په هره برخه کې اسلامي حکمونه او الهي اوامر په ځانونو باندې عملي کړئ او د جاهلیت له کارونو څخه ځانونه وساتئ.

روح المعاني (٢ /٩٧)

خو داچې په قرآني نصوصو کې اعتبار عموم د لفظ لره دی او ددې آیت خطاب هغو کسانو ته شامل دی چې مخکې اهل کتاب ؤ او بیا یې اسلام قبول او هم هغو کسانو ته شامل دی ابتداءً یې اسلام قبول کړی دی.

ددې آیت غرض او مقصود دادی، چې حقیقي مسلمان او ریښتینې اسلامي ټولنه هغه ده ، چې د الله جل جلاله احکامو او اوامرو ته پوره غاړه کیږدي او د الله تعالی له ټولو نواهیو څخه ځان وساتي او حقیقي اسلامي ټولنه هغه ټولنه ده، چې په هغه ټولنه کې خلکو الهي احکام او اوامر پرځانونو عملي کړي وي او دالله تعالی له منهیاتو څخه یې ځانونه لرې ساتلي وي.

او څوک چې د الهي اوامرو څخه سر غړونه کوي ، نو ده د شیطان ومنله او څوک چې د شیطان د پلونو پیروي وکړي، نو هغه ګمراه کیږي او د الهي د مرستې او محبت څخه محرومیږي.

ریښتینې اسلامي ټولنه هغه ټولنه ده،چې د هغې ټولنې مسلمانان خپل غم او خوشحالي د شریعت مطابق سره عیاروي.

واقعي مسلمان او واقعي مسلمانه ټولنه هغه ده، چې هر کله د الله تعالی حکم واوري، سمدستي یې پرځان عملي کوي او کوم کار چې د شریعت مخالف وي د هغه کار څخه ځانونه لرې ساتي.

واقعي مسلمان هغه دی چې په هر حالت کې د الله تعالی د حکمونو، اوامرو او نواهیو خیال ساتي او د الله تعالی د حکمونو په پټه او په ښکاره په هر حالت کې رعایت کوي.

په دنیا او آخرت کې کامیابي د هغه مسلمان او مسلمانې ټولنې په برخه کیږي، چې د الله تعالی د حکمونو اجابت کوي او ورته تسلیمیږي.

مونږ مسلمانانو ته ددې امر شوی دی چې د الله تعالی اوامرو او شرائعو ته په تمامه معنا ځانونه تسلیم کړو.

الله جل جلاله فرمایلي دي:(وَأُمِرْنَا لِنُسْلِمَ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ). الانعام:(٧١)

ترجمه:او امر کړی شوی دی مونږ ته چې اسلام راوړو (غاړه کېږدو) رب د تمامو عالمیانو ته.

الله جل جلاله فرمایلي دي: (لِلَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمُ الْحُسْنَى وَالَّذِينَ لَمْ يَسْتَجِيبُوا لَهُ لَوْ أَنَّ لَهُمْ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا وَمِثْلَهُ مَعَهُ لَافْتَدَوْا بِهِ أُولَئِكَ لَهُمْ سُوءُ الْحِسَابِ وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمِهَادُ).الرعد: (١٨)

ترجمه:شته لپاره د هغو کسانو چې حکم قبول کړی دی دوی د رب خپل (جزا) نېکه (چې جنت دی) او هغه کسان چې نه وي قبول کړی دوی حکم د دغه (الله) که چیرې وي دوی ته هر هغه څه چې دي په ځمکه کې ټول او نور هم وي په مثل د دې له دې سره (او په تصرف د دوی کې وي په قیامت کې) نو خامخا به فدیه ورکړي دوی په هغو ټولو

سره نو نه به خلاصیږي له عذابه دغه کسان مقرر دی دوی لره بد حساب (چې نه به یې نیکي قبوله او نه به یې بدي محو کیږي) او ځای د هستوګنې د دوی دوزخ دی او بد ځای د آرام دی (دغه دو زخ).

په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی فرمایلي دي، چې که چیرې څوک د الله تعالی د شرائعو او اوامرو څخه سرغړونه وکړي ، نو په قیامت کې به یې د الله د نیولو څخه څوک خلاص نکړی شي. الله تعالی فرمایي: (اسْتَجِيبُوا لِرَبِّكُمْ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَ يَوْمٌ لَا مَرَدَّ لَهُ مِنَ اللَّهِ مَا لَكُمْ مِنْ مَلْجَإٍ يَوْمَئِذٍ وَمَا لَكُمْ مِنْ نَكِيرٍ).الشورى: (٤٧)

ترجمه: اجابت وکړئ (ای خلقو!) رب د تاسې ته (په ایمان او توحید سره) پخوا له هغه چې راشي (هغه) ورځ چې نشته هیڅ رد او دفعه هغې ورځې لره له جانبه د الله. نه به وي تاسې ته هیڅ د پټیدلو (تښتېدلو) ځای په دغه ورځ کې او نه به وي تاسې ته هیڅ لاره د انکار له ګناهونو.

واقعي اسلامي ټولنه هغه ټولنه ده چې په هغه ټولنه کې د ژوند په هره برخه کې اسلامي تعلیمات او لارښوونې رعایت شوي وي او په تمامه معنا هغه ټولنه اسلام ته تابع وي، چې دا بیا هغه حالت دی چې مسلمان خپل ځان د الله تعالی او د هغه د رسول حکمونو ته تسلیم کړی دی.

که چیر مسلمان ځان د الله جل جلاله حکمونو او اوامرو ته تسلیم کړي، نو په حقیقت کې د الله تعالی په دې مبارک آیت { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً} باندې به یې عمل کړی وي او د الله تعالی فرمان ته به یې لبَّیک ویلې وي. او په ریښتیني توګه به یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم پیروي کړي وي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل ټول ژوند الله جل جلاله ته تسلیم کړی ؤ او نبي علیه السلام خپله غاړه د الله تعالی حکمونو او اوامرو ته ایښې وه او د الله تعالی په حکمونو ، فیصلو، اوامرو او نواهیو باندې په تمامه معنا راضي ؤ او کله به چې د الله تعالی کوم حکم نازل شو او یا به نهی راغله لومړنی هغه کس چې الهي امر او نهی به یې پر ځان عملي کړل ، هغه به نبي کریم صلی الله علیه وسلم ؤ .

همدا راز صحابه کرام چې د نبوت د مدرسې سپیڅلي شاګردا ن ؤ ، هغوی به هم د خپل پیغمبر په پَل باندې پَلونه کیښودلو او کله به چې کوم آیت نازل شو او کوم الهی حکم راغی او د هغې څخه به خبر شول ، د خپل پیغمبر په څیر به یې هغه الهي حکم ته غاړه کیښوده او فوراً بې چون وچرا به یې ورته عملي جامه واچوله او په خپلو ځانونو به یې نافذول او د صحابه کرامو په منځ کې به داسې څوک نه ؤ چې د الله تعالی د امر یا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حکم په اړه به زړه نا زړه ؤ.

یوځل حضرت عمرفاروق رضي الله عنه وفرمایل :(اللَّهُمَّ بَيِّنْ لَنَا فِي الخَمْرِ بَيَانَ شِفَاءٍ)، فَنَزَلَتِ الَّتِي فِي المَائِدَةِ: (إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاء فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَن ذِكْرِ اللّهِ وَعَنِ الصَّلاَةِ فَهَلْ أَنتُم مُّنتَهُونَ) [المائدة:٩١] فَدُعِيَ عُمَرُ فَقُرِئَتْ عَلَيْهِ فَقَالَ: "انْتَهَيْنَا انْتَهَيْنَا" [ الترمذي:٣٠٤٩]. سنن الترمذي ت شاكر (٥ /٢٥٤)

ژباړه: ای الله ! بیان کړه مونږ ته د شـــرابو په باره کې شــافی بیان، نو دا آیت نازل شــو (إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاء فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَن ذِكْرِ اللّهِ وَعَنِ الصَّلاَةِ فَهَلْ أَنتُم مُّنتَهُونَ) [المائدة:٩١]

ترجمه: بېشکه چې همدا خبره ده غواړي شـیطان چې واچوي په منځ سـتاسـې کې عداوت او بغض (کينه په څښـلو) د شرابو کې او کولو د قمار کې او اړوي تاسې له یاده د الله او لمانځه څخه نو آیا یئ تاسې منع کیدونکي (اوښتونکي له دې بدو کارونو بلکه واوړئ).

حضـرت عمررضــي الله عنه راوغوښــتل شــو او دا مذکور آیت ورته تلاوت کړل شــو نو حضــرت عمررضــي الله عنه سمدستي وفرمایل: "انْتَهَيْنَا انْتَهَيْنَا" (له شرابو) منع شو (له شرابو) منع شو.

د شـرابو د ممانعت څخه مخکې شـراب څښـل داسـې عادي کار ؤ او په خلکو د چې څښـلو په رائج ؤ او یو بل ته به یې په میلستیا کوې ورکول او ډیره ګرانه د شـرابو څخه منع کیدل .په یو حدیث کې راځي: عَنْ أَنَسٍ رَضِــيَ اللَّهُ عَنْهُ، كُنْتُ سَــاقِيَ القَوْمِ فِي مَنْزِلِ أَبِي طَلْحَةَ، وَكَانَ خَمْرُهُمْ يَوْمَئِذٍ الفَضِــيخَ، فَأَمَرَ رَسُــولُ اللَّهِ صَــلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَــلَّمَ مُنَادِيًا يُنَادِي: «أَلاَ إِنَّ الخَمْرَ قَــدْ حُرِّمَــتْ» قَــالَ: فَقَــالَ لِي أَبُو طَلْحَةَ: اخْرُجْ، فَأَهْرِقْهَا، فَخَرَجْتُ فَهَرَقْتُهَا، فَجَرَتْ فِي سِــكَكِ المَدِينَةِ). صحیح البخاري (٣ /١٣٢)

ژباړه: د حضــرت انس رضـــي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې زه شـــراب توزیع کوونکي وم په کور د طلحه رضــي الله عنه کې او د هغوی شــراب فضــيخ ؤ (یو ډول شــراب دي) ، نو نبي علیه الســلام یو اواز کوونکي ته امر وکړ چې اعلان وکړي چې خبردار! بیشـکه شـراب حرام کړی شـول.حضـرت انس رضـي الله عنه وایې چې ماته ابو طلحه رضــي اللـه عنه وویل: چې بیرون ته ووزه او شــراب واړوه ، نو زه بیرون ته ووتم او شــراب مې واړول، نو داســې(د سیلاب په شان) روان شول په کوڅو د مدینې منورې کې.

همدا رنګه د زنانه صــحابیاتو د شــریعت د حکمونو د منلو او هغې ته غاړه ایښــودلو ډیر زیات واقعات دي .په یو حدیث شـریف کې راځي: عَنْ أُمِّ سَـلَمَةَ قَالَتْ لَمَّا نَزَلَتْ (يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلاَبِيبِهِنَّ) خَرَجَ نِسَـاءُ الأَنْصَـارِ كَأَنَّ عَلَى رُءُوسِـهِنَّ الْغِرْبَانُ مِنَ الأَكْسِيَةِ. سنن أبى داود-ن (٤ /١٠٥)

ژباړه: حضـرت ام سـلمه رضـي الله عنها فرمایي کله چې حجاب د فرضـیت دا آیت (يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلاَبِيبِهِنَّ) نازل شو ، نو د انصـارو ښـځې به وتلې له کورونو څخه (په داسـې حال کې چې حجابونه به یې په سرونو اچولي ؤ ) ګویا چې ددوی په سرونو مارغان ناست دي د حجاب د څادرونو له امله.

همدارنګه صحابه کرامو به چې د نبي علیه السلام د خولې کلام دومره ژر عملي کولو چې ساري نلري.په حدیث شریف کې راځي.

عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَلَسَ عَلَى الْمِنْبَرِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، فَلَمَّا جَلَسَ قَالَ: «اجْلِسُوا» ، فَسَمِعَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ رَوَاحَةَ قَوْلَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اجْلِسُوا» ، فَجَلَسَ فِي بَنِي غَنْمٍ، فَقِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ ذَاكَ ابْنُ رَوَاحَةَ جَالِسٌ فِي بَنِي غَنْمٍ، سَمِعَكَ وَأَنْتَ تَقُولُ لِلنَاسِ: «اجْلِسُوا» ، فَجَلَسَ فِي مَكَانِهِ. وفي رواية: فَمَرَّ بِهِ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَقَالَ لَهُ: مَا شَأْنُكَ؟ قَالَ: سَمِعْتُكَ تَقُولُ: اجْلِسُوا فَجَلَسْتُ، فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-:زَادَكَ اللَّهُ طَاعَةً" المعجم الأوسط (٩ /٦٢)،مصنف عبد الرزاق:٥٣٦٧.

ژباړه: د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی ، هغه وایې چې بیشکه نبي علیه السلام په منبر کیناست د جمعې په ورځ، کله چې کیناست نو داسې یې وویل: کینئ! نو عبدالله بن رواحه د نبي علیه السلام خبره واوریده ، نو هغه (د مسجد نبوي څخه بیرون) په بني غنم ځای کې کیناست. نبي علیه السلام ته وویل شو چې ای د الله رسوله! هغه عبدالله بن رواحه دی په بني غنم ځای کې ناست دی، ستاسې څخه یې واوریدل چې تا خلکو ته وویل چې(کینئ) نو هغه ستا د خبرې د اوریدو په وجه په هغه ځای کې کیناست. د امام عبدالرزاق په روایت کې راځي چې په عبدالله بن رواحه په خوا کې نبي علیه السلام تیریدلو، نبي علیه السلام ورته وفرمایل: دلته څه کوئ؟ عبدالله بن رواحه رضي الله عنه ورته وویل: ما ستاسو څخه واوریدل چې داسې مو وویل: (کینئ) نو زه هم دلته کیناستم ، نبي علیه السلام ورته وفرمایل: الله تعالی دې زیات کړي ستا طاعت.

که چیرې د صحابه کرامو اسلام ته وګورو ،نو دا به راته واضحه شي چې واقعاً صحابه کرامو تل د الله تعالی او د هغه د رسول خبرو ته منتظر ؤ او د حکم د اوریدو سره سم به یې د الله تعالی او د هغه د رسول فرمانونه او حکمونه پر ځانونو تطبیقول ، څکه چې الله تعالی فرمایلي دي:( يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ). آل عمران:(١٠٢)

ترجمه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی و ویریږئ له الله نه په حق وېرې د ده او مه مرئ مګر په دې حال کې چې یئ تاسې مسلمانان.

امام ابواللیث سمرقندي ددې آیت په تفسیر کې وایې : د الله تعالی څخه ریښتینې ویره داده چې د هغه ریښتینې اطاعت وشي او د سترګې د رپ په اندازه هم د هغه له نا فرمانۍ څخه ځان وساتل شي او د الله تعالی شکر پرځای

کړل شي او د سترګې د رپ په اندازه د هغه له ناشکرۍ څخه ځان وساتل شي او الله تعالی تل یاد وساتل شي او د سترګې د رپ په اندازه هم د هغه د یاد څخه ونه ویستلی شي.). بحر العلوم ـ موافق للمطبوع(١ /٢٥٩)

البته د اکارونه د توان په اندازه له انسان څخه غوښتل شوي دي.

هغه اسلام چې نبي علیه السلام مونږ ته راوړی دی ، هغه یوازې ارشادات او یا د یو څو آدابو او اخلاقو مجموعه نه ده، بلکې کوم اسلام چې الله تعالی زمونږ لپاره غوره کړی دی، هغه دګټورو ارشاداتو او د عالي اخلاقو د مجموعې څخه علاوه اسلام د سوچه عقیدې ، ددیني شعائرو ، دیني احکاماتو، عادل قانون، د فردي ژوند تیرولو اصول، دټولنیز ژوند تیرولو اصول، ریښتینی سیاست ، دولت او شریعت ، تجارت او صنعت او ددنیوي او آخروي د ځانګړو حکمونو مجموعه ده.

اسلام په حقیقت کې د الله حکمونو او د شریعت ته د ځان پوره تسلیمولو څخه عبارت دی ، د الله تعالی د امر او نهی طاعت کول او د الله تعالی د نازل شوي منهج اتباع کول پرته له کوم شک او تردید څخه.

**د (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً) مبارک آیت فوائد او غوښتنې:**

**لومړۍ غوښتنه : د الله جل جلا له اوامرو او شرائعو ته کاملاً تسلیمیدل او هغه په ځان او ټولنې کې عملي کول.**

الحمد لله مونږ ټول د الله تعالی بندګان یو او د الله تعالی د عبودیت شرف هغه وخت تحقق پیدا کوي چې انسان د الله تعالی اطاعت وکړي او الهي اوامرو ته په تمامه معنا منقاد شي او د انسان ټول اندامونه الله تعالی ته تابع شي او الله تعالی ته خضوع، خشوع اختیار کړي او په ظاهر او باطن کې په دې یقین ولري چې د ټولو فیصلو او حکمونو حقیقي واکدار او مالک الله تعالی دی.

او انسان د ژوند په هره برخه کې دالله تعالی او د الله د رسول محمد صلی الله علیه وسلم شرائع ، حکمونه او امرونه پر ځان عملي کړي او داسې ونه کړي چې کوم حکم دده خوښ هغه مني او کوم حکمونه چې دده خوښ نه وي د هغې اطاعت نکوي او د ځان د خلاصولو لپاره مختلفې بهانې او دلیلونه وړاندې کوي.

او په اسلامي ټولنه کې هغه حکمونه عملي کیږي چې الله تعالی او د هغه رسول فرمایلي دي.

اسلام کې دداخلیدو مطلب دادی، چې د الله تعالی او د هغه د رسول محمد صلی الله علیه وسلم ټول مأموراتو غاړه کیږدي پرته له تفریق او تبعیض څخه

د (ادخلوا في السلم کافة) مطلب دادی چې ددین ټول حکمونه بلا استثناء په ځان باندې عملي کړه او ددین هیڅ شی مه پریږدئ مګر داچې په خپل ژوند کې پیاده کړئ او شرعي احکام د خلکو او خپلو خواهشاتو مه تابع کوئ او که چیرې الهي او د شریعت احکام د خپل نفس تابع وګرځول ، نو دا په حقیقت کې د شیطان پیروي ده او شیطان غواړي چې تاسې د خپل رب له عبادت او متابعت څخه لرې باسي، چې دا کار به اهل کتابو کولو چې کوم احکام او

مسائل به ددوی خوښۍ ؤ پر هغو به یې عمل کولو او د تورات کوم حکمونه به ددوی د مزاج سره برابر نه ؤ ، پر هغې به یې عمل نه کولو او د دې لپاره به یې مختلفې حیلې لټولې .

الله تعالی ددوی ددې کار مذمت بیان کړ او وه یې فرمایل:( أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ فَمَا جَزَاءُ مَنْ يَفْعَلُ ذَلِكَ مِنْكُمْ إِلا خِزْيٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يُرَدُّونَ إِلَى أَشَدِّ الْعَذَابِ) البقرة:(٨٥)

ترجمه:آیا پس منئ او ایمان راوړئ تاسې پر ځینو (احکامو) د کتاب (چې فدیه ده )او کافران کیږئ په ځینو نورو (احکامو دکتاب چې بې ګناه وژنئ په ګناه سره مرسته کوئ د دوی مغلوبان له وطنه شړئ).

بلکې د دې مبارک تقاضا داده چې حقیقي مؤمن هغه دی چې الله تعالی تابع او منقاد وي او د الله او د الله د رسول د فیصلې او حکمونو په سر او سترګو مني او د هغې څخه هیڅ ډول سرغړونه، نکوي. الله جل جلاله فرمایلي دي: (وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُبِينًا) الْأَحْزَابِ:(٣٦)

ترجمه:او نه دی روا هیڅ مؤمن سړي او نه هیڅ مؤمنې ښځې ته کله چې حکم وکړي الله او رسول د (لله) په یو امر کار کې چې وي دوی ته اختیار له امره کاره خپله (په خلاف د امر د الله او د رسول) هیڅ او هر څوک چې اطاعت نه کوي د الله او د رسول د (الله) پس په تحقیق ګمراه شو په ګمراهی ښکاره سره.

د مسلمانانو او اسلامي ټولنې لپاره پرته د الله تعالی د حکمونو دمنلو کې نه علاوه په بل څه کې صلاح او فلاح نشته او مسلمان تر هغې پورې د استقامت او خیر څښتن کیدلی نشي ترڅو چې الهي اوامر د زړه له تله ونه مني. الله تعالی د کامیابو مؤمنانو د صفت په اړه فرمایلي دي: (إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِينَ إِذَا دُعُوا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ أَنْ يَقُولُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا)النُّورِ:(٥١)

ترجمه: بیشکه همدا خبره ده چې ده وینا د مؤمنانو کله چې وبللی شي دوی الله ته او رسول د دغه (الله) ته لپاره د دې چې حکم وکړي په منځ د دوی کې (په وخت د جګړې کې) دا چې ووایې واوریده مونږ او ومانه مونږ (حکم د تا) او دغه ویونکي همدوی دي بریالیان خلاصی موندونکي (له عذابه په مراد رسیدلي).لکه څرنګه چې ابراهیم علیه السلام وکړل چې (إِذْ قَالَ لَهُ رَبُّهُ أَسْلِمْ قَالَ أَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ).الْبَقَرَةِ:( ١٣١)

ترجمه:او کله چې وویل ابراهیم ته رب د ده چې غاړه کیږده (زما احکامو ته) نو وویل ابراهیم غاړه مې ایښې ده رب د عالمیانو ته.

یعنې الله تعالی ورته وفرمایل: چې اخلاص وکړه او خپل ځان د الله تعالی حکم ته تسلیم کړه او هغه ته منقاد شه، نو ابراهیم علیه السلام وویل: ما ځان د مخلوقاتو خالق ته تسلیم کړی دی.

**دوهمه تقاضا او فائده: په ځان باندې د اسلام عملي کول او داسلامي اوامرو متابعت کول د ایمان علامه او مصداق دی.**

څوک چې د الله تعالی او د هغه درسول حکمونو او فیصلو ته غاړه ږدي دا دده په کامل ایمان دلالت کوي.

الله تعالی فرمایلي دي. (فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا)[النِّسَاءِ:(٦٥)

ترجمه:پس قسـم دی په رب سـتا چې نه مؤمنان کیږي دوی تر هغه پورې چې فیصـله کوونکي او حکم کړي دوی تا په هغه جګړه کې چې پېښـه شـوې ده په منځ د دوی کې بیا ونه مومي دوی په نفسـونو خپلو کې خپګان له هغه شـي چې حکم کړې وه تا او ویې مني دوی په منلو سره (بې له جګړې په خوښۍ سره).

**دریمه فائده: الله تعالی ته د ځان په تسلیمولو کې د بنده نجات دی.**

ځان الله تعالی ته په تسـلیمولو کې د الله تعالی د عذاب او غضـب څخه نجات دی او څوک چې ځان الهي فیصـلو ته تسـلیم کړي داسـې کس بـه تـل د اللـه تعـالی د عذاب څخه په امان کې وي ، بلکې د الله تعالی دهغه میثاق برخه به ګرځي چې اللـه تعـالی بـه یې نـه پـه عـذابوي. اللـه تعالی فرمایلي دي: (وَمَنْ يُسْـلِمْ وَجْهَهُ إِلَى اللَّهِ وَهُوَ مُحْسِـنٌ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى).لُقْمَانَ:( ٢٢)

ترجمـه: او هر څوک چې وسـپاري (تـابع کړي) مخ خپـل الله ته (او پرې تفویض او توکل وکړي) حال دا چې دی نیکو کار وي نو په تحقیق ده منګولې خښې کړي دي په کړۍ مضبوطې باندې.

یعنې څوک چې خپل عمل خالص الله لپاره وګرځوي او هغه ته منقاد شـي او هغه ته تسلیم شـي ، نو په تحقیق سره ده په هغه مضبوطه رسۍ منګولې ولګولې چې هیڅکله به ونه شکیږي.

ابن کثیر ددې آیت په تفسـیر کې لیکلي دي: (أي فقد أخذ موثقاً من الله متيناً لا يعذبه). تفسـير ابن كثير / دار الفكر (٣ /٥٤٥) بیشکه ده واخیستله وعده محکمه د الله تعالی څخه چې ده ته به عذاب نه ورکوي.

**څلورمه فائده: اسلامي احکامو ته په تسلیمیدلو سره د نفس او مال د برکت لامل ګرځي.**

څوک چې اسلامي احکامو ته ځان تسـلیم کړي او د الله تعالی په فیصـلو باندې د زړه نه راضـي شـي، دا د نفس او مال د برکت لامل ګرځي.

په یو حدیث شـریف کې راځي: عن أَنَس بْن مَالِكٍ رَضِـيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ اشْـتَكَى ابْنٌ لِأَبِي طَلْحَةَ قَالَ فَمَاتَ وَأَبُو طَلْحَةَ خَارِجٌ فَلَمَّا رَأَتْ امْرَأَتُـهُ أَنَّـهُ قَـدْ مَـاتَ هَيَّأَتْ شَـيْئًا وَنَحَّتْهُ فِي جَانِبِ الْبَيْتِ فَلَمَّا جَاءَ أَبُو طَلْحَةَ قَالَ كَيْفَ الْغُلَامُ قَالَتْ قَدْ هَدَأَتْ نَفْسُهُ وَأَرْجُو أَنْ يَكُونَ قَدْ اسْـتَرَاحَ وَظَنَّ أَبُو طَلْحَةَ أَنَّهَا صَادِقَةٌ قَالَ فَبَاتَ فَلَمَّا أَصْبَحَ اغْتَسَـلَ فَلَمَّا أَرَادَ أَنْ يَخْرُجَ أَعْلَمَتْهُ أَنَّهُ قَدْ مَاتَ فَصَلَّى مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ أَخْبَرَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَا كَانَ مِنْهُمَا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَـلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَـلَّمَ لَعَلَّ اللَّهَ أَنْ يُبَارِكَ لَكُمَا فِي لَيْلَتِكُمَا قَالَ سُـفْيَانُ فَقَالَ رَجُلٌ مِنْ الْأَنْصَارِ فَرَأَيْتُ لَهُمَا تِسْعَةَ أَوْلَادٍ كُلُّهُمْ قَدْ قَرَأَ الْقُرْآنَ . صحيح البخاري ت (٣ /٢٤٨)

ژباړه: د حضـرت انس بن مالک رضـي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې ابو طلحه رضي الله عنه زوی د مریضۍ څخه شـکایت وکړ ، حضـرت انس رضـی الله عنه وایې، چې هغه ماشوم مړ شـو او ابوطلحه رضـي الله په سـفر کې ؤ، کله چې د ابو طلحه رضـي الله ښـځې ولید چې ماشـوم مړ شـو، یوشـی تیار کړ او د کور په طرف کې یې کیښـود، کله چې ابو طلحه رضـي الله عنه راغی وه یې ویل : څرنګه دی هغه هلک؟ ښـځې ورته وویل: د هغه نفس ارام شـوی دی او زه امید لرم چې اسـتراحت به یې کړی وي او ابو طلحه ګمان وکړ چې د هغه ښـځه ریښـتینې ده هغه ویده شـو، کله چې سـهار شو او غُسـل یې وکړ او غوښـتل یې چې له کوره ووځي ، ښـځې پوهه کړ چې هغه ماشـوم مړ شـوی دی، نو

ابوطلحه له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره لمونځ وکړ، بیایې نبي علیه السلام ته د هغه څه په باره کې معلومات ورکړل چې له دوی سره شوي ؤ، نبي علیه السلام ورته وفرمایل: امید دی چې الله تعالی به ستاسو لپاره په دغه شپه کې برکت اچولی وي.سفیان بن عیینه رحمه الله وایې د انصارو څخه یو سړي وویل: ما ولیدل د هغه نهه اولادونه چې ټولو قرآن کریم لوستلی ؤ.

**بَارَكَ اللَّهُ لِي وَلَكُم فِي القُرآنِ العَظِيمِ، وَنَفَعَنَا بِمَا فِيهِ مِنَ الآيَاتِ وَالذِّكرِ الحَكِيمِ، أَقُولُ قَولِي هَذَا، وَأَستَغفِرُ اللَّهَ لِي وَلَكُم وَلِسَائِرِ المُسلِمِينَ مِن كُلِّ ذَنبٍ فَاستَغفِرُوهُ، إِنَّهُ هُوَ الغَفُورُ الرَّحِيمُ.**